# [یوولسمه معلوماتپاڼه] له چاپېریاله زده‌کړه او ګټورګډون

## لومړی ګام: د شته معلوماتو تحلیل: پوهیدل په هغه اندازه چې کولای شی پوه شئ.

اړوند مالومات پیدا او تجزیه کړئ(لکه دوهم اطلاعات) د ټولنې او د هغې د اړوند محیط په اړه یې.

پایله:
لنډ یادښت د RCCE له اړوندو معلوماتو سره تر هدف لاندې ټولنې په اړه. په راټولو شویو اطلاعاتو ، عمر، جنسیت او ډول ډول شمولیت یا (AGD) ته په کتو باید بیا پرې کتنه وشي. لید باید په معلوماتو، خدمتونو، مرستې او وکالت کې شته درزونه یا کمی مشخصې کړي.

## دویم ګام: د ښکیل لوري نقشه او د ځواب ورکونکو نوملړ جوړ کړئ

پدې ځان پوه کړئ چې اصلي لوري یا لوبغاړي په ټولنه کې څوک دي او هغه کاري ساحه چې تاسو ورسره علاقه لرئ کومه ده او هڅه وکړي چې دا پیدا کړئ چې څه په زړه پورې دي او هغه ځواک کوم دی چې څه موږ غواړو هغه راته سرته ورسوي.

پایله:
د ښکیلو لورو یا لوبغاړو لیست
د اغیز لرونکې نقشې لومړی طرحه
د ځواک ورکونکو لومړنی لیست

## دریم ګام: د ګډون ارزونه پیل کړئ: له متخصیصینو پوښتنې وکړئ.

د ټولنې مختلف ګروپونه یا د ګروپونو استازي پکې راښکیل کړی څو د منظمو خبرو اترو له لارې د ګډون معنا لرونکې پروسه جوړه شي.

پایله:

- د ټولنې له اړتیاوو لومړني مالومات، زیانمنې ، ظرفیتون، منابع، او مقابله کوونکې تګلارې په ټولنه کې د ټولو ګروپونو په کچه.

- د زیانمننونکو ډلو د ګډون کچې لوړول او د مستحقو کسانو په توګه یې پېژندل.
- لومړني لومړیتوبونه او بالقوه حل لارې د ټولنې په واسطه یا د ټولنې لخوا

## څلورم ګام: د لومړي او دوهم مرحلې د اطلاعاتو تحلیل او تجزیه: ټول سره یو ځای کړئ.

له پیله مو چې کوم مالومات راټول کړي هغه خلاصه او تجزیه کړئ څو مهم موندنې، لومړي توبونه او سپارښتنې مشخصې شي: د ښکل لوري تحلیل او فرصتونه تشخیص کړئ څو وروسته له یوه سره سر وخوري.

پایله:
د ارزونې راپور له تفکیک شویو اطلاعاتو سره، د ټولنې اړتیاوې، زیانمنې، ظرفیتونه، منابع او همغاړې یا مقابلې ستراتیژۍ.
دې راپور/پروسې کې د پېژندګلوی لاندې موارد هم شامل دي:

- مهمې موندنې، لومړیتوبونه او سپارښتنې – چې باید د ټولنې لخوا تایید شي.
- اصلي مخاطبان او تاثیر یا اغیز کوونکې. او هغوی ته د لاس رسی څرنګوالی.
- له نورو ادارو سره د همکاری فرصتونه
- هغه فرصتونه چې د ټولنې لخوا د رهبري کیدونکو نوښتونو ملاتړ وکړي. د ګډون کچې ټاکل.
- هغه فرصتونه چې د محلي حکومت یا حکومتي بنسټونو ملاتړ وکړي(لکه د کوڅنر شوراګانې) پراختیایې شوراګانې او نور. په تخنیکي ډول او/یا له سرچینو، د بشردوستانه عمل د اوصولو له مخې. ( لکه ، بشریت، بې طرفي او خپلواکي.)

- وروستی خو کم نه، ستاسو خپل ورزیات شوی ارزښت. څنګه یې بشپړوی/ یا یې پیاوړی کوی، د شته څواب ورکونکو یاهم محلي یا ملي حکومت، موسیسو او/یا خپله د ټولنو کارکړنې.

## پنځم ګام: پایلې له ټولنې او نورو ښکیلو اړخونو سره تصدیق کړئ: بیرته یې مسترد کړئ او د راتلونکو پړاوونو لپاره یې په ګډه ډیزاین کړئ.

بیرته ټولنې ته وکرځئ هغه څه ورسره شریک کړئ چې له دوي یا مو له دوی سره زده کړي او یا مو له نورو ښکیلو اړخونو نه، څو خپل تحلیل پرې تصدیق او تصفیه کړئ و د راتلونکو مرحلو لپاره یې په ګډه ډیزاین کړئ.

پایله:

- وروستی راپور او پریزنتیشن له وروستیو موندنو ، نتیجه ګیرئ یا پایلو، سپارښتنو سره.
- د یوې ( ټولنې) د عمل پلان طرحه؟ لپاره، له یا په واسطه د ټولنې؟ . د ګډون کچې چې مخکې مو یې په اړه خبرې کړې وې په یاد ولرئ.
- وکالت او د سرچینې بسیج شوی پلان . دغه کلیمه تکراروه او پیسې ګټه.